# د مراد شینواري د تذکرې "د خېبر ادب" تحقیقي او تنقیدي جائزه

A Critical and Analytical Study of Murad Shinwari's Tazkira
" Da Khyber Adab"

Tajamul Hasan (Baryal Yousafzai)1
Dr.Attar Ur Rahman 2

**Abstract**

One among the prominent literary figures in the Pashto literature of 20th century is Murad Shinwari. He was the only son of Amir Hamza Khan Shinwari, a renowned poet but, neither he imitated his father nor anyone else in Pashto literature. His is a unique style in Pashto modern literature. His genius is multifaceted. He has contributed to Pashto criticism, poetry, fiction writing, film-song writing, drama writing, calligraphy, journalism, translation, writing and many more.

**Key Words:** Pashto,Literature,Murad Shinwari.

د نورو مېدانونو سره سره هغوي په پښتو د تذکره نګارۍ په مېدان کښې هم کار کړے او په دغه لړ کښې ئې د پښتونخوا په معاصر جدید ادب کښې وړومبۍ جدیده تذکره اولیکله. چې د خپل نوعیت مهمه تذکره ده. په دې تحقیقي مقاله کښې د هغوي د تذکره نګارۍ تحقیقي او تنقیدي جائزه اخستلې شوې ده

تذکره د عربۍ ژبې د لفظ "ذکر" نه مشتق دے چې معنې ئې ده یادول، یاد ساتل او یادګار. د ادب په اصطلاح کښې د تذکرې نه مراد هغه کتاب په کومو کښې چې د ادبي، سیاسي، تاریخي، مذهبي مشاهیرو یا د یوې متعلقه شعبې سره د تړلے شویو مخصوصو خلقو د ژوند احوال بیان شوے وي او د هغوي د کار او زیار نمونې په کښې ذکر شوي وي. ډاکټر جاوېد اقبال د تذکرې په تعریف کښې لیکي:

"تذکره په ادبي اصطلاح کښې هغه کتاب ته وئیلے شي په کوم کښې چې د شاعرانو ادیبانو سیاستدانو هنرمندانو او دغسې د نورو اهمو شخصیاتو د ژوند، د خاندان او زمانې د حالاتو او واقعاتو سره سره د دغه شخصیاتو په خپل خپل مېدان کښې د خدماتو او کارنامو ذکر شوے وي او دغه لړ کښې

---

[1] M.Phil Scholar Pashto Department Islamia College University Peshawar
[2] Assistant Professor Pashto Department Jahanzeb College Swat

ځيني بنيادي او اهم معلومات په کښې خونديږ شوي وي" ۱

دلته زمونږ د تذکرې نه مراد هغه تذکره چې په کښې د ادبي مشاهيرو د ژوند حالات او د هغوي دکار او زيار نمونې ذکر وي.

پښتو ژبه او ادب کښې د تذکرې پېل د اوومه هجري صدۍ نه د سلېمان ماکو صابزي د تذکرې "تذکرۀ الاولياء" نه کېږي د کومې چې يؤ څو پاڼې د علامه عبدالحئ حبيبي په زيار مخې ته راغلي دي.چې په کښې د پښتو د پخوانو يؤ څو شاعرانو د ژوند احوال او د کلام نمونې په نظر راځي. ورستو چې بيا کومې تذکرې ليکل شوي ده په هغې کښې تاريخ سوري، اعلام اللوذعي في الخبار لودهي، لرغوني پښتانۀ، غربت نامه، بستان الاولياء،تذکرۀ اولياۍ افغان،تحفۀ صالح، کليد کامراني،اولياۍ افغان، بياض دا هغه تزکرې دي کومې چې اوس زمونږ په لاسونو کښې نشته خو ولې نورو کتابونو او تذکرو ترې مواد رانقل کړي دي. د دې نه ورستو چې زمونږ مخې ته بله کومه اهمه تذکره مخې ته راځي هغه د محمد هوتک "پټه خزانه" ده کومه چې د پښتو ادب په اړه مونږ ته بشپړ او پوره معلومات راښائي. د پټې خزانې نه ورستو مونږ داسې اثار لرو کوم چې تذکره نما اثار دي کوم چې استاد حبيب الله رفيع په خپل کتاب "د پښتو پخوانۍ تذکرې" په اخرنۍ حصه کښې ذکر کړي.

د پښتو په جديد دؤر کښې د تذکرې پېل په افغانستان کښې د علامه عبدالحئ حبيبي د "پښتانۀ شعرا" نه کېږي چې د دې تذکرې وړومبے ټوک علامه حبيبي په ۱۹۴۲۱ کښې د کابل ټولنې لۀ خوا خپور کړو دغه چا بيا د دغې تذکرې نورو ټوکونو مختلفو ليکوالو اوليکل چې دويم ټوک صديق الله رشتين، دريم عبدالشکور رشاد او ګل باچا الفت سره نورو په شريکو اوليکو او بيا ئې څلور ټوکه عبدالله بختاني خدمتګار اوليکل. دغه شان په کال ۱۹۴۴ء کښې عبدالرؤف بېنوا پښتنې مېرمنې تذکره اوليکله او په کابل کښې چاپ شوه. په پښتونوخوا کښې د جديدې تذکرې پېل مراد خان شينواري نه کېږي چا چې يوه تذکره "د خېبر ادب" په نوم په کال ۱۹۵۸ءکښې چاپ کړې ده چې د پښتونخوا په جديد او معاصر ادب کښې وړومبۍ تذکره ده په دې حوالې سره محمد داؤد وفا ليکي:

" په پښتونخوا کښې د معاصرې ادبي دورې لومړۍ تذکره "د خېبر ادب" ده، چې مراد شينواري په ۱۹۵۸م کښې ليکلې او خپره شوې ده"۲

بيا هم په دغه کال باندې پښتانۀ ليکوال اوليکله چې ورستو ئې بيا نور دوه ټوکونه هم خوارۀ شول هم دغه شان پښتو ادب کښې د تذکرې ليکلو دا لړۍ جاري ده.لاندې د مراد شينواري په

تذکرې "د خېبر ادب" باندې بحث کؤو.

مراد شینواري تذکره "د خېبر ادب" په کال ۱۹۵۸ء په منظور عام پریس،پېښور د دولس سوه په تعداد کښې په خپل زیار چاپ کړه . د تذکرې په ابتدا کښې مراد شینواري د "خېبر او غزل" عنوان لاندې سریزه لیکلې ده . ترون ئې د دوست محمد کامل مومند په نوم کړے دے . مراد شینواري په دې تذکره کښې د خېبر ادب په څلورو برخو کښې وېشلے دے چې په کښې د روښانیانو دوره،اولسي دوره،نوې دؤر او نوے کهول شامل دے . او د هر دؤر نمائنده شاعران ئې راپېژندلي دي.

وړومبۍ برخه:"د روښانیانو دوره"د مراد شینواري د روښانیانو د دورې د عنوان لاندې " روښانیان څوک وو؟"،پیر روښان او وحدت الوجود ،روښانیان او پښتو ادب" په موضوعاتو تفصیلي لیکل کړي دي او وروسته ئې درې شاعران راپېژندلي دي . چې په کښې مرزا خان انصاري، قادر داد او ورکزے شامل دي .

د تذکرې دویمه برخه اولسي دوره ده، په دې برخه کښې مراد شینواري د اولسي ادب په موضوع خبره کړې ده او وروسته ئې د خېبر۷ اولسي شاعران راپېژندلي دي چې په کښې میرا،توره باز شینواري،یار محمد خان شینواري،اختر محمد شینواري،خسرو اپریدي، حاجي محمد امین او سیدان شاه اپریدي شامل دي .

درېمه برخه "نوې دوره" ده چې په کښې مراد شینواري ۱۷ شاعران راپېژندلي دي چې په کښې سیدان خان شینواري،ابولمراد امیر حمزه خان شینواري،محمد اکرم خان فاروق شینواري،حاکم شاه صابر،شهزاد خان جوهر، لعل زاده ناظر شینواري، محمد عمر سیماب، عبدالاکبر شینواري، امیر محمد ساغر اپریدي،مراد شینواري، نور محمد ځیګر اپریدي، محمد اعظم خان اعظم شینواري، زیارت شاه شاکر شینواري، خان بادشاه صابر، مصري خان خاطر اپریدي، هاشم خان صدبر او احمد زے قاصر شامل دي .

څلورمه برخه"نوے کهول": د تذکرې په دې برخه کښې مراد شینواري د "نوے کهول" او قومیت لاندې تفصیلي لیکل کړي دي او وروسته ئې ۹ شاعران راپېژندلي دي چې په کښې ظابطه حلیم خان، عبدالقیوم کوثر، محمد احسان ظهیر، مینار خان، ممتاز خان، محمد یوسف، سردار امین، جهانزیب نسیم او سید علي احمد جان خېبر اپریدي شامل دي .

پروفېسر ډاکټر محمد حنیف خلیل د خېبر ادب باره کښې لیکي:

"د خیبر ادب مراد شینواری کا مرتب کردہ تذکرہ ہے جس میں ان شعراء وادباء کا ذکر ہے جو درہ خیبر سے تعلق رکھتے ہیں۔ اس تذکرہ میں کلاسیکی دوَر سے ابتداء کر کے ہمعصر شعرا کا حال اور نمونہ کلام دیا گیا ہے۔ روشنیہ تحریک کے شعراء چونکہ درہ خیبر میں رہائش پزیر تھے اس لئے ان کا ذکر بھی اس تذکرہ میں موجود ہے۔ اس تذکرہ میں پہلا شاعر مرزا خان انصاری ہے اور کل ۳۸ شعراء کا حال اور نمونہ کلام دیا گیا ہے، یہ تذکرہ مراد شینواری کا بڑا کارنامہ اس لئے ہے کہ اس دور میں جدید تذکرہ نگاری نے زیادہ ترقی نہیں کی تھی یہ تذکرہ ۱۹۵۸ء میں اشاعت پذیر ہوا ہے"۳

د مراد شینواري دا تذکره د شلمې صدۍ یوه کامیابه تذکره ده چې د خیبر د شاعرانو لیکوالانو د ژوند احوال او د هغوي د کلام نمونې ئې په کښې ذکر کړې دي. لاندې د تذکرې د فن په بنیاد د تذکرې تحقیقي او تنقیدي جائزه اخلو.

د اردو ژبې لیکوال ډاکټر منصور عالم په خپل کتاب "بہار میں تذکرہ نگاری" کښې د تذکرې شلور عناصر ښودلي دي کوم چې د تذکرې د لیکلو په لړ کښې ضروري دي چې په کښې د افرادو احوال، عصري نقوش، د کار او زیار نمونې او تبصره او تنقید شامل دي. هم د دغې عناصرو په رڼا کښې د مراد شینواري د تذکرې جائزه اخلو:

"د افرادو احوال": که مونږ د جوړښت په حواله ګورو نو تذکره خو نۀ ژوند لیکنه ده نۀ تاریخ دے او نۀ تحقیق او نۀ تنقید خو بنیادي طور دا یوه پېژندګلو ده چې په یؤ وخت د تحقیق، تنقید، تاریخ او ژوند لیکنې وظیفه ترسره کوي. د تذکره نګارۍ مقصد د مشاهیرو سره خلق اشنا کول دي، ناشنا خلق منظر عام ته راؤړل دي او د هغوي داسې پېژندګلو کول دي چې نۀ خو ډېره مختصره وي چې د چا د ژوند اهم احوال پاتې نۀ شي او نۀ خو دومره اوږده په کار ده چې د ژوند لیکنې شکل اختیار کړي. د ټولو نۀ ښکلې او غوره تذکره هغه ده کوم چې د یؤ سړي د ژوند متعلق اهم او ضروري مواد په خپله لمنه کښې راونغاړي. چې په کښې لاندیني معلومات اهم دي

1. نوم،لقب، تخلص، خطاب او کنیت
2. خاندان، قام او قبیله/ حسب و نسب
3. د زېږون نېټه/ځاے/کال
4. تعلیم اوتربیت/ زده کړې
5. عقیدې او مسلک
6. وادۀ او اولاد

7. روزګاراو مشغلې
8. دوستان ، سماجي او ټولنيز تعلقات
9. او کار ګُذاريانې

ډاکټر منصور عالم هم په دغې حوالې سره ليکي:

"تذکرہ میں پیش کردہ افراد کا سرسری ذکر سود مند نہیں ہوتا۔ اچھا اور اہم تذکرہ وہ ہے جو فرد کی زندگی سے متعلق ضروری اور اہم معلومات پر مبنی ہوتا ہے۔ اس لئے تعارفی پیش کش میں تذکرہ نگار کے لئے مندرجہ ذیل پہلوؤں کی نشاندہی ضروری ہو جاتی ہے
1: نام، لقب، تخلص، خطاب اور کنیت کی صراحت کے ساتھ 2: خاندان حسب و نسب، 3: سال اور جائے پیدائش، 4: تعلیم و تربیت، 5: مسلک و عقائد، 6: شادی اور اولاد، 7: ذریعہ معاش اور مشغلے، 8: احباب اور سماجی تعلقات، 9: کار گذاریاں"[۴]

اوس که مونږ په دغه بره تناظر کښې د مراد شينواري تذکره ګورو نو د په دغه لړ کښې د هغوي تذکره پوره ده او د افرادو د ژوند حالات ئې ډېر په ښۀ ډول ذکر کړي چې نۀ خو ډېر لنډ دي او نۀ د ضرورت نه زيات اوږده دي. بلکې د هر شاعر د احوال چې ئې ذکر کړي دي نو په خپل ځائے ئې مناسب او سهي ذکر کړي دي.د مثال په توګه د عبدالکبر شينواري احوال،د حمزه شينواري د ژوند احوال، وغېره

"عصري نقوش": په تذکره نګارۍ کښې د عصري نقوش نه مراد دا دے چې يؤ شاعر په کوم عصر کښې ژوند کوي چې د هغې عصر معاشي،ټولنيز،ادبي او سياسي حالات په تذکره کښې په داسې انداز سره ذکر کول. د کومو په وجه چې د يؤ شاعر د فن جائزه په اسانه سره اخستلې شي. مراد شينواري په خپله تذکره کښې هم د شاعرانو د ژوند د حالاتو کښې عصري نقوش ذکر کړي دي. د محمد اکرم فاروق شينواري د ژوند په حالاتو کښې ليکي چې:

په ۱۹۴۱ء کښې د جرمني حملو زور اوکړو. د اتحاديانو د زنځير نه د فرانس هالېنډ او پولينډ وغېره کړې پرېوتې برطانيې د روس د حملې سېلاؤ ته د ترهې په نظر کتل. د هندوستان د حفاظت د پاره هغوي په خيبر کښې د يوه مظبوط ډي فنس لائن په جوړولو ګوتې پورې کړې"[۵]

"د کار او زيار نمونې":د تذکرې بل اهم عنصر د کار او زيار نمونې دي ځکه چې د انسان د ټولو نه اهم ځيز د هغه کار دے او هم د دغې کار او زيار په وجې سره انسان ژوندے پاتې کېږي. په تذکره

کښي د يؤ سړي پېژندګلو تر هغې نۀ شي پوره کېدے ترڅو پوري چې د هغه د کار او زيار نمونه نه وي شامله او بيا په ادبي تذکره کښې د کار او زيار نمونې اهميت نور هم سِوا وي ځکه چې د دې په وجه باندې د هغه سړي د ادبي معيار او د هغه د کلام اندازه په اسانه لږي . اوس د دغې نمونې په انتخاب کښې د ډېر احتياط او غېر جانب دارۍ نه کار اخستل ضروري دي. داسې دې نۀ وي چې د هغې د عصبيت او تعصب بوئې راځي . زما په خيال په تذکره د يؤ سړي د کار او د هغه د فن پارې نمونې د درې نه واخله تر پينځۀ پورې په کار دي.

مراد شينواري په خپله تذکره د خېبر ادب کښې د شاعرانو د ژوند د حالاتو سره د هغوي د کلام نمونې ښۀ په سهي توګه ذکر کړي دي. د مثال په توګه د محمد اکرم فاروق شينواري چې نثر او نظم دواړه ليکي د هغوي ئې د نثر او نظم دواړه نمونې ذکر کړي دي. هم دغه رنګ ئې د هر شاعر د کلام ئې څلور ،پينځۀ نمونې ذکر کړي دي چې د يؤ شاعر د کلام د قدرت اندازه ترې په اسانه کېدے شي۔

"**تبصره او تنقيد**" :د تذکرې بل اهم عنصر تبصره او تنقيد دے يعنې د کوم شاعر ذکر چې تذکره نګار کول غواړي نو د هغه د کلام په نمونه دې لنډه شان تبصره او تنقيد ضرور کوي خو په دغه لړ کښې دې هم د معروضيت نه کار اخلي او تذکره نګار دې ځان د عصبيت نه پاک ساتي. دغه تنقيدي تبصره دې ډېره اوږده نۀ وي ځکه چې بيا په تذکره کښې اختصار ختمېږي کوم چې د تذکره نګارۍ په عېبونو کښې راځي او تذکره بيا د يؤ تنقيدي فن پارې شکل اختياروي اوس که په دغه تناظر کښې مونږ د مراد شينواري تذکره ګورو نو هغوي تقريباً په خپله تذکره کښې د ذکر شويو ټولو شاعرانو په کلام تبصره او تنقيد کړے دے لکه د عبدالاکبر شينواري د کلام په اړه وائي چې:

> "اکبر د لفظونو په انتخاب کښې ډېر کړاؤ او زړۀ چاؤدون کوي. هغه د ښکلا مينه په ډېرو رنګونو ماتوي او هغه احساسات چې د الفاظو په ګرفت کښې نۀ راځي د محاکاتو په ژبه بيانوي.
> اکبر د رښتوني فنکار په شان حساس زړۀ لري د "غم جانان" په سرور کښې "غم روزګار" د زړۀ نه نۀ اوباسي. هغه د خپل چاپېرچل نه سترګې نۀ پټوي،د يؤ وېښ فنکار په سترګو د بدلېدنکو حالاتو مطالعه هم کوي"[۶]

خو ولې د ډېرو کمو شاعرانو په کلام ئې تنقيد او تبصره نۀ دے کړې لکه د مثال په توګه د اختر محمد شينواري د ژوند احوال او د کلام نمونې ئې ذکر کړي دي خو ولې د هغوي په کلام

ئې تبصره نۀ ده کړې. خو په کومو شاعرانو چې ئې تبصره کړې ده. د هغې نه د مراد شینواري د تنقیدي شعور ډېره واضحه پته لږي او مونږ په دې نتیجه رسو چې مراد شینواري د یؤ ښۀ تذکره نګار سره سره یؤ ښۀ نقاد هم دے. تر دې ځایه د تذکرې د عناصرو په رڼا کښې د مراد شینواري د تذکره نګارۍ جائزه واخستلې شوه اوس د تذکرې د خصوصیاتو په رڼا کښې د مراد شینواري د تذکرې د خېبر ادب جائزه اخلو:

د یوې کامیابې او ښې تذکرې چې کوم خصوصیات دي په هغې کښې وړومبے دا چې په تذکره کښې دې اختصار او جامعیت وي. دویم د تذکرې د لیکلو په وخت دې تحقیق او لټون نه کار اخستے شوے وي، دریم تذکره دې په غېر جانب دارۍ سره لیکلې شوې وي، څلورم دا چې د هغې د بیان انداز دې غېر انشائیه وي او پینځم دې چا په تذکره کښې دې تاریخي ترتیب وي. ډاکټر منصور عالم په خپل کتاب "بہار میں تذکرہ نگاری" کښې لیکي چې

"ایک اعلیٰ اور مفید تذکرہ کی درج ذیل خصوصیات ہوتی ہیں:

(1) اختصار اور جامعیت (2) تحقیق و جستجو (3) غیر عصبیت (4) غیر انشائی انداز بیان (5) تاریخی ترتیب "۷

او که مونږ په دغه بره تناظر کښې د مراد شینواري تذکرې "د خېبر ادب" ته اوګورو نو مونږ ته په کښې دغه بره ذکر شوي ټول خصوصیات په نظر راځي. خو صرف په تاریخي ترتیب کښې څۀ شاعران وړاندې ورستو شوے دي. د مراد شینواري دا تذکره د خپل وخت یوه کامیابه تذکره ده چې د هغې د ادبي او خاص کر د تنقیدي صلاحیتونو اندازه ترې په اسانه کېدے شي.محمد داؤد وفا په خپل کتاب "د پښتو اوسنۍ تذکرې" کښې د مراد شینواري په تذکره"د خېبر ادب" باندې خپل نظر داسې څرګندوي:

> "له خپل وخت سره سم د خېبر ادب یوه مهمه تذکره ده، چې د خېبر سیمې شاعران راپېژني، په دغه تذکره کښې مرزا خان انصاري هم د خېبر سیمې شاعر ښوول شوے . که څۀ هم مرزا خان انصاري په خپلو شعرونو کښې خېبر او تیراه یاد کړي، خو دا یادونې د یؤ شاعر د سیمې په پېژندو کښې کافي نۀ دي دا تذکره د ځینو هغه تذکرو پوره او غوره ده چې اوس اوس چاپېږي که څوک اوس د خېبر سیمې شاعران او ادیبان رابنائي نو ډېر هم به په کښې شامل کړے شي"۸

## حوالې


1. ډاکټر جاوېد اقبال،د همېش خلیل ژوند او ادبي خدمات،مخ ۳۱۹
2. محمد داؤد وفا،د پښتو معاصره ادب تاریخ(څلورم پړاؤ)،مومند خپرندویه ټولنه،جلال اباد،۲۰۱۷ء، مخ۴۲۱
3. پروفیسر ڈاکٹر محمد حنیف خلیل، پشتوزبان وادب کی تاریخ،اعراف پرنٹرز، پشاور، طبع دوم فروری۲۰۱۹ء،مخ۴۴۲
4. ڈاکٹر محمد منصور عالم، بہار میں تذکرہ نگاری،کتاب منزل، پٹنہ،۱۹۸۰ء،مخ5
5. مراد شینواري،د خېبر ادب،۱۹۸۵ءمخ ۱۲۴
6. هم دغه،مخ ۲۰۹
7. ڈاکٹر محمد منصور عالم، بہار میں تذکرہ نگاری،کتاب منزل، پٹنہ،۱۹۸۰ء،مخ۸
8. محمد داؤد وفا، د پښتو اوسنۍ تذکرې، ختيځ اکاډمي، ننګرهار، ۲۰۱۴ء، مخ ۵۱۹